PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت دویم کال، ۲۷ مه ګڼه، پنجشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د چنګاښ ۳۱ مه د۱۴۳۱ هـ ق د شعبان المعظم ۱۰ مه د۲۰۱۰ م د جولای۲۲ مه

الهی فرمان

منافقان تګي کوي له الله سره، او الله سزا ورکوونکی دی دوی ته (ددوی د تګی په سبب) هر کله چې پاڅیږي دغه منافقان لمانځه ته نو پاڅیږي سست کاهلان، ښئ دوی خلکو ته خپل خانونه چې موږ هم مسلمانان یو، او نه یادوي دوی الله مګر لږ، د خان ښودلو په خاطر. دوی متردد دي په منځ د ایمان او کفر کې، (نه بیخي له مؤمنانو سره دي او نه بیخي له کفارو سره) او الله چې څوک ګمراه کړي نو له سره به ونه مومې ته، هغه لپاره د حق لاره. (النساء، ۱۴۲ - ۱۴۳)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پر هغه ذات مې قسم چې دهغه په قبضه کې زما روح دی، تاسې به خامخا خلکو ته د نیکی حکم کوئ او له بدو کارونو څخه به منع کوئ، د کم عقلو لاسونه به نیسئ چې هغوی پر چا تیرې ونه کړي، او د حق په لوری به اړوئ که نه الله تعالی به ستاسی د ځینو خلکو له کبله ستاسی د نورو خلکو زړونه هم مره کوي، بیا به پر تاسو داسې لعنت کوي لکه څنګه چې د بني اسرائیلو پر خلکو یې لعنت کړې و. (ابو داود، ترمذي)

کرزی: افغان ها مسؤولیت امنیتی را تا ۲۰۱۴ به عهده میگیرند

صدای امریکا:
حامد کرزی، رئیس جمهور افغانستان بروز سه شنبه در کنفرانس بین المللی کابل گفت او متعهد میباشد که قوای مسلح افغانستان تا سال ۲۰۱۴ مسؤولیت امنیتی را به عهده میگیرند. آقای کرزی همچنان بر شرکای بین المللی اصرار ورزید تا حکومت افغانستان را اجازه دهند، در مصرف پول های مساعدتی صلاحیت بیشتری داشته باشد. آقای کرزی گفت جامعهٔ جهانی پول کافی را برای سه سال آینده به افغانستان تعهد نموده، ولی او خواهان به مصرف رساندن آن از طریق حکومت گردید.
نمایندگان حداقل ٦۰ کشور و سازمان ها درین کنفرانس یکروزه در مرکز افغانستان اشتراک نموده بودند. هلری کلنتن، وزیر خارجهٔ ایالات متحده به اشتراک کنندگان

بقیه در صفحه ۴

دکابل په کنفرانس کې د نړۍ والو ژمنه

کابل، رسنی:
د کابل نړیوال کانفرانس چې پکې د شاخوا ۷۰ هیوادونو او نړیوالو ادارو استازو ګډون کړي وه د سې شنبې په ماسپښین پاې ته ورسیده. په دغه کانفرانس کې افغان دولت ژمنه وکړه چې د ښې حکومت دارۍ، د فساد سره د مبارزې او اصلاحاتو په برخه کې کار کوي او نړیوالي ټولنې ژمنه وکړه چې له افغان دولت سره به د ټولو لومړیتوبونو په پوره کولو کې مرسته کوي.
د کابل له کانفرانس څخه وروسته ولسمشر حامد کرزي او د ملګروملتونو سرمنشي بانکي مون یوې خبري غونډې ته خبرې وکړې.
د کابل کانفرانس د ټینګو امنیتي تدابیرو لاندې پداسې حال کې پای ته ورسیده چې افغان ولسمشر دغه کانفرانس ډیر بریالی او پر وخت وګاڼه او هیله یې څرګنده کړه چې دا به په افغانستان کې نظام نور هم څواکمن کړي.
ولسمشر حامد کرزي د کابل له کانفرانس څخه وروسته په یوې خبري غونډه کې وویل چې د افغانانو لخوا د مسولیتونو د اخیستلو لړۍ روانه ده او تمه ده چې افغان امنیتي څواکونه به په دې وتوانیږي چې په راتلونکو تقریبا څلورو

پاتې ٤ مخ



کوچنر: افغانستان دې له خپلو پرونیو دښمنانو سره سوله وکړي

تاند:
د فرانسې د بهرنیو چارو وزیربر نارد کوچنر د سه شنبې په ورځ د کابل په نړیوال کنفرانس کې له افغانستانه وغوښتل چې له خپلو پرونیو دښمنانو سره د سولې جرات وکړي.
د فرانسې د بهرنیو چارو وزیر دا خبره په داسې حال کې وکړه چې د افغانستان حکومت له طالبانو سره د سولې پراخې هلې ځلې پیل کړې دي.
کوچنر وویل: ((موږ باید د هغې لارې په اړه ربښتیا ووایو چې ممکن اوږده وي او جرات اوتخیل ته اړتیا ولري.))

د فرانسې د بهرنیو چارو وزیرپه دې ټینګار وکړ چې له پرونیو دښمنانو سره سوله کېدای شي .ده دا هم وویل چې د افغانستان د ولسي جرګې انتخابات کېدای شي چې په دیموکراتیک سیاسي سیستم کې د پخوانیو طالبانود وړتیا او ظرفیت ازموینه وي.
برنارد کوچنرپه عین حال کې هیله څرګنده کړه چې ښځې له طالبانو سره د سولې د پروسې قرباني نه شي.
ده د خپل ولسمشرنیکولای سرکوزي ژمنه تکرار کړه چې فرانسه به ترهغه وخته په افغانستان کې پاته شي چې اړتیا یې وي خو په عین حال کې یې له افغانانو او نړیوالو ټولنې

پاتې ٤ مخ

جو بایډن: د افغانستان د سرتیرو د ایستلو د پیل نیټه پر خپل ځای ده

امریکا، رسنی:
د متحده ایالاتو د ولسمشر مرستیال ویلې له افغانستان څخه د امریکایي څواکونو د د ویستلو د پیل لپاره چې کومه نیټه جمهور رییس اوباما اعلان کړې هغه پر ځای او دقیقه ده . له اې بي سي نیوز سره په مرکه کې جو بایډن ویلې دا عسکر هر څو زره چې وي په ۲۰۱۱میلادي کال کې به له افغانستان څخه د امریکایي سرتیرو د انتقال پروسه پیلیږي .
د رویټرز خبري اژانس په وینا لوړ رتبه امریکایي چارواکو په دې وروستیو کې ویلې چې په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو کمول به د حالاتو او د وضیعت په څرنګوالي پورې مربوط وي.
دغو مقاماتو ویلي د ولسمشر اوباما له خوا د عسکرو د ویستلو د نیټې اعلان افغان دولت ته یو پیغام دی چې باید د خپل هیواد د امنیت ساتنې لپاره ګامونه اوچت کړي او لا زیات مسولیتونه پر غاړه واخلي.

پاتې ٤ مخ

واشنګټن پوست: دبوش او ډیک چیني پټه نړۍ

روهي ویب:
واشنګټن پوست په خپله ګڼه کې داسې یو سرې (پټ) راپور خپور کړې دی ،چې د ورځپاڼې لیکوالو کښلي دی او لیکلو یې نږدې دوه کاله وخت نیولي دی او سرچینه یې دامریکا حکومت او CIAده لیکوالان په یوه خوله کاږي : امریکا له ترهګری سره په جګړه کې ناکامه ده .
راپور زیاتوي دسپټمبر له یولسم راوروسته حکومت داسې یوه نړۍ رامنځته کړې ده، چې پیچلې او ناڅرګنده او داسې ښکاري، چې دا نړۍ نوره هم سرې کیږي او دهر وخت په تیریدو سره ته پوښتنبه پیدا کیږي، چې دا نړۍ به نوره څومره پیچلې او ناڅرګنده وي.
هیڅوک نه پوهیږي ،چې له ترهګری سره په جګړه کې څومره لګښتونه په مصر ف رسیږي او نه دهغو کسانو شمېر څرګند دی ،چې په دې جګړه کې پر مبارزه بوخت دي اونه د هغو پروګرامونو شمېر .

پاتې ٤ مخ

د جاپان د بهرنیو چارو وزیر د ۱۱ سوه ملیونو ډالرو مرسته اعلان کړه

تاند:
د جاپان د بهرنیو چارو وزیر کاتځویا او کادا (د سه شنبه په ورځ) د کابل نړیوال کنفرانس ته وویل چې جاپان به سږکال افغانستان ته یوولس سوه ملیون ډالره مرسته ورکړي.
دا پیسې د هغو پنځه ملیارد ډالرو برخه ده چې جاپان تېر کال له افغانستان سره د هغو ژمنه کړې وه .جاپان ویلي وو چې دا پیسې به په پنځو کلونو کې افغانستان ته ورکړي.
د کابل د نړیوال کنفرانس په پرانستونکې وینا کې ولسمشر کرزي د افغانستان حکومت ته د زیاتو مرستو د ورکولو او د هغو پروژو د جوړولو غوښتنه وکړه چې د افغانستان حکومت یې غواړي.
د کابل نړیوال کنفرانس د افغانستان په تاریخ کې ترټولو مهمه نړیواله غونډه وه چې د اویا هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو او نورو لوړ رتبه مقاماتو پکې ګډون کړی وو.
د جاپان د بهرنیوچارو وزیرښاغلي او کادا کنفرانس ته وویل هغه مرسته چې سږکال یې جاپان افغانستان ته ورکوي د امنیتي چارو د ښه کولو لپاره ده ، لکه په ټولنه کې د وسله والو طالبانو د جذبولوپه خاطرهغوی ته د کار

پاتې ٤ مخ

ملیشه سازی، چالشی برای آینده!

صفحه سوم

راځئ د خپل هېواد خدمت ته پخپله متې راونغاړو

دویم مخ

عواید اداره مواد نفتی پلخمری نسبت به سال گذشته افزایش یافته است

رادیو آزادی:
مسوولین اداره مواد نفتی پلخمری می گویند، تلاش های سال گذشته آنها باعث شد تا عواید این اداره نسبت به سال گذشته افزایش یابد.
آنها می گویند، این افزایش عمدتاً از جمع آوری قروض گذشته و مالیه از تانک های تیل خصوصی به دست آمده است.
عبدالکریم شاهین رییس اداره کنترول مواد نفتی ولایات بغلان، بامیان و دایکندی گفت:
((ساحه مسوولیت اداره مواد نفتی پلخمری ولایت بغلان، بامیان و دایکندی می باشد.
عواید ما در سال ۱۳۸۷ هشت ملیون و ۹٦۱هزار بود. ولی در سال ۱۳۸۸ ، ۱۰ ملیون و ۸۳۹ هزار افغانی یعنی بیست فیصد



بالاتر از سال پار آن و حدود سه ملیون اضافه از پلان دولت شد.))
عبدالکریم شاهین رییس این اداره کنترول بر مواد نفتی که ولایات بغلان بامیان و دایکندی

بقیه در صفحه ۴

سرلیکنه — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د کابل نړۍ وال کانفرانس

د پردی کټ تر نیمې شپې وي

د تېرې سه شنبې په ورځ د افغانستان پلازمینه کابل کې نړدی د ۷۲ مرسته کوونکو هېوادو د استازو یوه نړۍ وال کانفرانس جوړ شو په کانفرانس کې ګډون کوونکو هېوادو استازو ژمنه وکړه چې له افغانستان سره به مالي مرستې وکړي تر څو وکولای شي خپل بنسټیز اړتیاوې پوره او د ولس په ورځني ژوندانه کې مثبت بدلون راولي.
که څه هم ډېر سیاسي شنونکي او ډېرې افغانان ددغه نړیوال کانفرانس په اړه شک څرګندوي او وایي چې دا به هم د نورو کانفرانسونو په څېر څه نتیجه ورنکړي خو عمومي نظر دا دی چې د کابل دغه نړۍ وال کانفرانس به مثبتې پایلې ولري. دا به وخت ثابت کړي چې د کابل نړۍ وال کانفرانس به مثبته نتیجه ورکوي او که منفي. البته یوه واقعیت چې ستر ګې ترینه نشي پټېدلې هغه دا دی چې تر څو پورې افغانان د خپل هېواد د استحکام او سمسورتیا لپاره پخپله ابتکار ونکړي او پخپلو متو د ودانولو کلک هوډ ونکړي نو د نړۍ هیڅ یو ځواک نه شي کولې چې افغانستان له دې غربت ځپلې فضا نه وژغوري او پخپلو پښو ودروی. که څه هم افغانستان د څو لسیزو جګړو له کبله د بهرنیانو هر اړخیز مرستو ته خورا ډېر ضرورت لري او دهغوی له مرستو پرته نشي کولې پخپلو ورځنیو مشکلاتو قابو راولي خو که اصل حقیقت ته ځیر شو نو دا واقعیت په ګوته کیږي چې د افغانانو بنسټیز مشکل یواځې خراب اقتصاد نه، بلکې د اوږدې مودې راهیسې خپل منځي اختلاف او وسله وال جنګ دی. هر څوک پوهیږي چې جنګ هغه ستره بلا ده چې هر څه پخپله ګیله کې آچوي، نه پیسې دهغه ګیډه ډکولې شي او نه بل څه.
د یو هېواد اقتصاد او ولسي وګړو ژوند ترهغې نشي ښه کیدلې تر څو چې د جنګ لمبې نه وي مړې شوې، چېرته چې اوربل وي هلته ګلونه نشي ټوکیدلې او نه هم څوک د اور په لمبو کې د ګلونو بوټي نهالوي.
د افغانستان د کړیدلي ولس په ژوند کې به هله د سپرلي د ګلونو موسم راشي چې له هر څه وړاندې د خپلمنځي جګړو اور مړ کړي، ټول د اتفاق او یووالي په ټغر کیني، د خپل هېواد د استقلال او استحکام لپاره یو موټي او یو غږ شي، یو بل ته د مینې او خلوص غېږه پرانیزي، خپل ټول توان او استعدادونه په ګډه د هېواد د بیارغاونې او سمسورتیا لپاره پکار واچوي.
متل دی چې د پردي کټ تر نیمې شپې وي، نه ښایي چې موږ د پردیو پر کټونو متکي واوسو نن وي که سبا هغوی خپل کټونه له موږ نه وړي موږ ته پکار دي چې پخپلو وسائلو او پخپلو همتونو له دې بدحالت نه د وتلو لپاره متې راونغاړو او د پردیو له احتیاجی نه ځانونه وساتو.
دا بهادری نه ده چې د پردیو خیراتونو ته سترګې په لاره واوسو او د نورو په صدقو ژوند تیر کړو. د پردیو دا صدقې هیڅ اعتبار نه لري هر کله چې وغواړي د خیراتونو دغه دروازې بندولې هم شي، نو ځکه موږ ته پکار دي چې له دې نه د نجات لپاره یوه اساسي لاره وسنجوو او داسې پلانونه پکار واچوو چې په مستقل ډول پخپلو پښو ودریږو او د بل چا له غرض نه ډک خیراتونو ته کچکولونه ونه ګرځوو، له څه شک پرته له دې حالت نه د وتلو یواځیني عملي لاره داده چې د خپلمنځي روغې جوړې او تفاهم لپاره سنجیده کوښښونه پکار واچوو د جنګ، جګړې او اختلافاتو فضاء د ورورولی په فضا بدله کړو، هېواد د امن ځانګو وګرځوو او پخپلو کې د مینې او ورورۍ په خوږه فضاء کې آرام او هوسا ژوند تیر کړو.
امن هغه قیمتي پانګه او د کیمیا بوټي ده چې زموږ د ژوندانه ټول ضرورتونه پکې پخپله له منځه ځي او په ډېر لږ وخت کې ددې جوګه کیږو چې د پرمختګ په زړه پورې پړاوونه ووهو او د خپل ګران هېواد طبعي زیرمې او حاصلات د خپل اولس د هوساینې او د هېواد د استحکام او سمسورتیا لپاره په کار واچوو او د نړۍ په سر په جګو سترګو ژوند تیر کړو.

راځئ د خپل هېواد خدمت ته پخپله متې راونغاړو

محمد خلیل

پر موږ د الله جل جلاله لوی احسان دی چې د افغانستان په څېر یو ښکلي هېواد یې راپه برخه کړې دی. موږ باید د الله جل جلاله ددغه لوی احسان هره شیبه شکر وباسو او پرې نږدو چې د خدای جل جلاله دغه لوی نعمت زموږ دلاسه ووځي.
دا یو منل شوې حقیقت دی چې هر چاله خپل هېواد سره مینه کړې او دهغه د سمسورتیا لپاره په بشپړ اخلاص هلې ځلې کړی دي هغوی د خوشال ژوند خاوندان شوي او د پرمختګ معراج ته رسیدلي دي.
موږ چې د نړۍ په سر کومو خوشالو او پرمختللیو هېوادو ته ګورو تر شاېې دهغوی د اوسیدونکو د خواري او محنت لوی لاس دی، چېرته هم داسې نه دی شوې چې یو هېواد دې د خپلو اوسیدونکو له خواري او زیاره پرته پخپله د پرمختګ پړاوونه وهلي وي. افغانستان هم د نړۍ د خوشالو او پرمختللیو هېواد په قطار کې راتلی شي خو هله چې اوسیدونکي یې ددې د خدمت لپاره صمیم عزم وکړي لویشت، لویشت زمکه په خپلو خولو خړوبه کړي، ددې د سمسورتیا لپاره شپه ورځ پر ځان یوه او خپل ټول توان او قابلیت پکار واچوي، له هر هغې کړنې څخه ډډه وکړي چې د هېواد په تاوان تمامیږي. له خپل ځان، مال او اولاده ورسره زیاته مینه وکړي. د هېواد مجموعي ګټو ته په خپلو ذاتي ګټو ترجیح ورکړي له هر هغه حرکت او عمل نه لاس په سر شي چې د هېواد امن، سلامتیا او استقلال له زیان سره مخامخ کوي. ښکاره خبره ده چې دغه سپېڅلي هدف او مقصد ته د رسیدو یواځینی لاره داده چې د هېواد ټول اوسیدونکي هر ډول ناروا اختلافات شاته واچوي، د یو بل د حذفولو او دهغوی د روا حقوقو څخه د محرومولو شیطاني هلې ځلې پرېږدي، د یو بل پرخلاف مورچلې ونه نیسي، خپل ځواک د یو بل د ختمولو لپاره خرچ نه کړي، پخپلو کې د رنګ نسل، ژبې او سمتي تعصبونو په ناروغی اخته نه شي، له یو بل سره کینه، حسد او بغض پرېږدي، د یو بل د حقوقو د ضایع کولو فکر له دماغه وباسي، همیشه لپاره له منفي سوچ او غیر اسلامي کارونو څخه په کلکله ځانونه وساتي خو متأسفانه چې د افغانستان زیاتره وګړي له تش شعار پرته د خپل هېواد د پرمختګ او سمسورتیا لپاره عملي ډګر ته نه دانګي، هغه مواصفات پخپلو ځانو کې نه پیدا کوي چې د هېواد د ترقي او خوشالي لپاره خورا ضروري دي، برعکس له خپلې خاورې او ملت سره دومره جفا کوي چې د افغانستان دښمنان هم ورته حیران دي.
د بېلګې په توګه د نړۍ والو له خوا هغه مالي مرستې چې د افغانستان د بیارغاونې او د ولسي وګړو د خیر ښېګڼې لپاره کیږي د واک خاوندان یې پر ځای نه لګوي او خپل ګیډې ورباندې ډکوي، همدغه پیسې بېرته بهرنیو بانکو ته لیږي او هلته یې ځانو لپاره جمع کوي. که موږ پخپله له خپل هېواد او ملت سره داسې ظالمانه سلوک کوو نو بل څوک موږ له دغې بدمرغی نه څنګه ویستلې شي؟
موږ ټول عمر بل چاته د ملامتی ګوته خو نیولې ده مګر کله مو هم په دې خبره ژور غور نه دی کړی چې موږ پخپله څومره خپل ایماني او افغاني مسؤولیت ادا کړی دی؟ آیا موږ پخپل لاس دا حالت نه دی راوستې؟ آیا دداسې حالاتو او شرائطو په برابرولو کې موږ پخپله ګنهګار نه یو؟ ! که چېرته موږ حقایقو ته غاړه کیږدو او د حقیقت له منلو نه تېښته ونکړو نو پخپلې ګناه له اعتراف پرته بله چاره نه لرو.
په هېواد کې د قانون د حاکمیت او دهغه احترام کچه تر دې حده کمزوری دی چې د چا قانوني او رواکار هم له رشوت پرته نه کیږي، که څه هم په ځینو وزارتونو کې ډېر صالح او د ولس خدمتګار اشخاص شتون لري او په پوره اخلاص او صداقت د ولس خدمت کوي مګر دوی په اوړو کې د مالګې هومره دي چې ډېر کم اثرات یې مرتب کیږي. د قانون حاکمیت او دهغه احترام د یو هېواد د استحکام ملا تیر او بنسټیز ځواک دی چې د لکونو پولیس او وسائلو له لارې هم نه شي ترلاسه کیدلای. قانون پخپله نه شي حاکمیدلي چې د هر سر غړوونکی لاسو او پښو ته ولچک او زولنې واچوي بلکې دې لپاره دهغو ایماندارو او دیانتدارو چارواکو ضرورت دی چې پخپله هم قانون پر ځان عملي کړي او پر رعیت هم لاګو کړي. تر څو پورې چې داسې حاکمان او مسؤولین نه وي پیدا شوې نو په هېواد کې نه قانون حاکمیدلې شي او نه یې څوک هم احترام کوي.
د کوم هېواد د چارواکو او ولسي وګړو چې دا حالت وي نو ددې خبرې ځنګه تمه کیدلې شي چې هېواد یې پرمختګ وکړي او وګړي یې د امن راحت او خوښی په فضا کې ژوند تیر کړي، د ژوند په مختلفو ډګرونو کې بریاوې ترلاسه او د بل چا له محتاجې نه خلاصون ومومي، که د افغانستان چارواکي، مسؤولین او ټول وګړي یې واقعاً غواړي چې هېواد یې د ترقی پړاوونه ووهي، د امن، استحکام او سکون وزری ورباندې خوری شي، له جنجالونو او کړاوونو څخه خلاص شي نو پر وړاندې یې لدې پرته بل هېڅ لاره نشته چې د ایمان، امانت، صداقت او اخلاص په توره ملاوې وتړي، په صمیم عزم او قوي جذبې سره د خپلې خاورې او اولس د خدمت لپاره د عمل ډګر ته راودانګي، که نه نو تش شعارونه او بې ځای ګلې شکوې د افغانستان یو مشکل هم نه شي حلولې.

بایللی جنګ او د امریکایی سیاستوال وړاندیز

کله چې می تیره ورځ د افغان – جرمن پورتال د خبرونو لړ پرانیسته، هلته می په هند کی د امریکا دپخوانی سفیر رابرت بلک ویل له خولی لیکلی ترستر ګو شول چې ویلی یی وه امریکا او انډیوالان یی باید دخپلو سرتیرو دخوندی ساتلو په موخه افغانستان په لنډ مهاله توګه پر دوو برخو وویشی. جنوبی برخی دې طالبانو ته پریږدی، دکابل په ګډون شمال اولودیز کی دې دجنګ دګټلو دپاره خپل قوتونه ځای پرځای کړی او له هغه ځایه دی په ازاد لاس دهوایی قوی او کله هم دکوماندو څخه کاراخلی.
ددی وړاندیز دلوستلو سره جوخت می د (بایللی جنګ) تر سرلیک لاندی د ډنمارکی ژبی ورځپانی (مترو اکسپرس) په ۰۶ / ۰۷ / ۲۰۱۰ ګڼه کی یوه لیکنه رایاده شوه چې تیره ورځ می په پښتو ژباړلی او خپل کمپیوټر ته می ور دننه کړی وه. معلومیږی چې دامریکا دی ښاغلی سیاستوال وړاندیز ډیر ناوخته ورپه یاد شوی دی. د ورځپاڼی دلیکنی نه څرکنده ده چې نور دلودیزوالو مورال دجنګ دګټلو نه ډیر وروسته پاتې دی. دادی لومړی به د نوموړی ژباړه په ګډه ولولو اوبیا به خپلې خبری ته راوګرځو. دلیکنی لیکوال لیکی:
په افغانستان کی هغه مشر جنرال چې باید ستایل شوی وای، له دندی ګوښه کړی شو. زه فکر کوم اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې په افغانستان کی دخپل جنګ په اړه ځانونه په واقعتونو خبر کړو او پدی پوه شو چې هلته څه تیریږي. نه پوهیږم چې دا جنګ اوس په څه نامه یاد کړم. بیله دی چې د (بایللی جنګ) پنامه یی یاد کړم، سخته به وی چې لدی نه بل ښه نوم ورته پیداکړم. یو یا دوه کاله وروسته غواړو یا نغواړو موږ به دې ته اړشو چې خپل قوتونه له افغانستانه را وباسو او طالبان یوار بیا په ارامه ښارونو ته ننوزی.
ما دخپل هیواد دملی دفاع د وزیر له خولی اوریدلی دی چې موږ باید له هر څه نه وړاندی پدی باندی ځانونه په ښه توګه ډاده کړو چې دافغانستان خاوره یوار بیا دلودیز په وړاندی دبرید په موخه ونه کارول شی. خو زه فکر کوم چې دی موخی ته د رسېدو لپاره د مخالفینو سره جوړ وکړو، نه د جنګ دلاری. که مو دا کار له اوله کړی وای اوس به مو لږترلږه د ۳۵ تنو ډنمارکی سرتیرو ځلمیانو ژوند ساتلی وای. دا هم دیادولو وړ ده چې هلته نور د القاعدی تروریستان په زیات شمیر کې شتون نلری. په لږ شمیر کې خو که سومالیا ته هم سر ووهو، هلته یې هم موندلای شو.
دامی هم له سیاستوالو څخه ډیر اوریدلی او تل یې تکراروي چې موږ هلته افغانانو ته پولیس اود جنګ وړتیا لرونکی اردو روزو. داخبره هم بیله خوشی اوتو بوتو نه بل څه نشو بللای. داځکه چې افغانان دا وروستی درې لسیزی په جنګ کې ښکیل دی، نو یوازنی شی چې دوی پدغه موده کی ښه زده کړی او اوږی یی ورسره ښې پخې کړی دی هغه جنګ اوجنګی چاری دی. پدی خاطر نو دوی و دی ته اړ نه دی چې د جنګی وړتیا دپاره یی موږ و روزو. موږ په حقیقت کی ددی څو کالو په موده له دوی نه خپل زده کړی جنګی مهارت هیر کړ چې څنګه د مخالفو وسله والو په وړاندی وجنګیږی (مثل: کارغه د زرکی تګ زده کاوه خپل دا یی هیرشو. ژباړونکی.) که چیری موږ کوم شل کاله پخوا دوی دې کارته روزلای، نو کولای مو شوه ووایو چې: ډیر لایق شاګردان لرو.
که هرڅه هم داخبره په دلته عجیبه ښکاری، خو پرځای به وی که ووایو چې داجنګ اوس یو بایللی جنګ دی کنه نو موږ به ددی ټولو خبرو سره سره یوازی پدی خاطر داهڅه کوو چې په یوه یا بل ډول دجنګ مورال وساتو. داچې اوس امریکایان هڅه کوی د هوایی بمباریو په مټ طالبان دځمکی له مخ نه پاک کړی، دا برسیره پر دی چې ډیره برخه یی د ملکی وګړو ژوند اخلی، دطالبانو په له منځه وړلو کی هم هیڅ دپام وړ رول لوبولای نشی. زما په ګمان دا ډیر بی ځایه کار دی چې ددی ټولو نیمګړتیاوو سره سره بیاهم موږ ددغه ناوړه جنګ د ارزښتونو په هکله خبری وکړو. دا هم باید له یاده ونه باسو چې افغانان تل دهر هغه پردی په وړاندی جنګیدلی دی چې وطن ته یی وسله پلاس راغلی دی. داخبره اوس ترلمر سپینه ده چې جنګ نور موږ بایللی دی، خو یوازی دخپل نامه او عزت ساتلو پخاطر پر دغه خبره باندی خوله پټه نیسو. (د بینوا ویب پاڼی نه په مننه)

ذاکر جلالی

ملیشه سازی، چالشی برای آینده!

پس از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، در ایالات متحدهٔ امریکا، شکست جمهوریخواهان و راه یافتن بارک اوباما به کاخ سفید، سیاست امریکا در یک چرخش صدو هشتاد درجه یی تغییر یافت. اوباما برخلاف سلفش، تعامل جدی را با حامد کرزی در پیش گرفت. نخستین چالشی که اوباما در جنگ افغانستان با آن مواجه شد، خواست جنرال ستنلی مکرستل، فرمانده پیشین ناتو در افغانستان، مبنی بر اعزام سی هزار نیروی تازه نفس به افغانستان بود. مکرستل به صراحت تام و بطور بی باکانه اعلام نمود که در صورت عدم اعزام این تعداد عساکر به افغانستان، جنگ افغانستان به شکست مواجه خواهد شد.

این اولین بار نبود که اوباما به این چنین تنبه مواجه میشود، بلکه بارها سیاسیون و نظامیان سابقه دار امریکا از راههای مختلف به رئیس جمهور جوان گوشزد نموده اند که در برابر جنگ مزبور باید محتاطانه گام برداشته شود و هریک همگونی این جنگ را با جنگ ویتنام به اثبات رسانده اند.

زمانیکه جنرال ستانلی مکرستل درک کرد که باوجود پاسخ مثبت به خواهش اعزام سی هزار عسکر بیشتر، در جنگ پیشرو هیچ کدام نشانهٔ پیروزی به چشم نمیخورد. پس فرار را به قرار ترجیح داد. مکرستل در مقاله اش مقامات بلند پایهٔ ملکی کشورش را مورد انتقاد قرار داد که در نتیجه ظاهراً به همین بهانه استعفا اش را صادر نمود و از لکهٔ ننگ شکست جنگ افغانستان جان بسلامت برد تا در تاریخ نامش بمثابهٔ جنرال شکست خورده ثبت نشود.

رئیس جمهور اوباما اندک پس از استعفاء مکرستل، قرمانده قومندانی مرکزی ایالات متحده جنرال دیود پتریوس را بعوض مکرستل در افغانستان تعیین نمود. جنرال پتریوس جنرالی بود که مقاومت مردم عراق را علیه نیروهای امریکایی بطور مؤقتی، متوقف ساخت. پتریوس با دامن زدن اختلافات مذهبی میان عراقیان سنی و شیعه، توانست چند ماهی در انکشور نارام به آرامی بسر ببرد.

جنرال پتریوس پس از انتصابش بحیث قومندان ناتو در افغانستان، همواره تأکید بران مینمود که فقط رهبری تغییر نموده، ستراتیژی ایجاد شدهٔ توسط مکرستل، به حال خود باقی باقیست.

ولی طبق گزارشهای رسانه های گروهی، زمانیکه پتریوس رسماً فرماندهی را بدست گرفت، نخستین دیدارش با رئیس جمهور حامد کرزی آگنده از تنشها بود. ولی دیری نگذشته بود که این اختلافات پس پرده، به رسانه ها درز نمودند. زمانیکه پتریوس پیشنهاد نمود، تاً جوانان روستایی افغان را، مسلح و در مقابل مقاومت بسیج نمایند، کرزی ظاهراً به اصطلاح به مخالفت برخاست.

روشنتر بگویم، طرح پتریوس، اینست تا اربکیهای مانند، ایام اخرین رژیم داکتر نجیب، ایجاد شوند. اربیکها در افغانتسان تاریخی خوبی ندارند و مردم افغانستان، عملکردهای زشت ایشان را هنوز فراموش ننموده اند.

اربکیها، نخست هنگام ریاست جمهوری داکتر نجیب، جهت مقابله با مجاهدین ایجاد شدند. پس از سرنگونی رژیم نجیب ایشان با نامهای مختلف میان گروههای مجاهدین رخنه نمودند و در جنگهای داخلی نقش بارزی ایفا نمودند.

با در نظرداشت تاریخ زشت اربکیها کرزی به مخالفت پتریوس پرداخت مگر قرار گزارشهای اخیر آقای کرزی ناگزیر به فیصله یی دوست ! خارجی اش سر تعظیم خم نمود و به اصطلاح تعدادی رسانه ها سرانجام کرزی صاحب تسلیم شد.

با ایجاد اربکیها، امریکاییها میخواهند با یک تیر دو شکار نمایند. در صورت ایجاد این پدیده از یکسو از بار سنگین تلفات روز افزون امریکاییها تا حدی خواهد کاست و از جانب دیگر امریکاییها میتوانند توسط این گروه، ضربهٔ محکمی بر پیکر جانب مقاومت وارد نمایند. بدیهی است که جنگی را که اربکی (افغان) به پیش می برد، امریکاییها به هیچ صورت نمیتواند.

این در حالیست که اکثریت مطلق کارشناسان سیاسی-نظامی افغان این طرح را غیر مؤثر پنداشته اند. حتی رئیس مبارزه با تروریزم وزارت دفاع در یک گفتگو این طرح را غیر مؤثر تلقی نمود. جنرال شهنواز تنی- وزیر دفاع رژیم نجیب- که در این زمینه از تجربهٔ کافی برخوردار است، نقایص این طرح را بر فوایدش بیشتر دانست.

ماه جون سال ۲۰۱۰م مرگبارترین ماه در طول حضور نه سالهٔ بیگانگان در افغانستان تلقی شد. به گفتهٔ سخنگویان ناتو، فقط در ماه جون بیشتر از صد عسکر ناتو در افغانستان به هلاکت رسیده است. نمیتوان تلفات زاید الوصف ماه جون را با طرح اربکی سازی بی ارتباط دانست.

از قراین و شواهد چنین برمی آید که امریکا و ناتو در افغانستان در واپسین سالهایشان قرار دارند. تلفات و خسارات روز افزون و همچنان فشارهای اتباع کشورهای دارای نیرو در افغانستان، علل برجستهٔ شکست ناتو در افغانستان تلقی میشود.

هر چند هنوز پدیدهٔ ملیشه سازی تشکیل نشده و قفط فیصلهٔ روز کاغذ است که با عرصهٔ عمل فرسنگها فاصله دارد ولی اگر ایجاد شود، چالشی دیگری را برای افغانها در راه رسیدن به صلح و ثبات بمیان خواهد اورد که واژگون ساختنش، در ایندهٔ نزدیک آسان نخواهد بود .

(د ټول افغان ویب پاڼی نه په مننه)

افغانستان در آئینهٔ مطبوعات جهان

خانم کلنتن تصدیق کرد که موفقیت در افغانستان ممکن نه خواهد بود

روزنامه های پر تیراژ و معتبر تایمز چاپ لندن و شپیگل چاپ آلمان در شماره های اخیر خود در ارتباط موفقیت ماموریت ناتو و خروج احتمالی نیروهای ناتو از افغانستان مقاله های نوشته اند.

تایمز:

روزنامه تایمز زیر عنوان "خانم کلنتن تصدیق کرد که موفقیت در افغانستان ممکن نه خواهد بود" مقاله یی نوشته و در آغاز این مقاله می نویسد، وزیر خارجه ایالات متحده امریکا شک و تردید های را در باره موفقیت جنگ در افغانستان تایید نمود، ولی تاکید کرد که جامعه بین المللی کشور ویران شده افغانستان را ترک نخواهند کرد.

وزیر خارجه امریکا گفت، جهان با افغانستان است و جهان مخالف تهدید و دشمن مشترک است که در کمین همه ما نشسته اند. ما برای تلاش های خود در برابر تاریخ جواب گو خواهیم بود و ما امروز این جا هستیم تا باید کاری را برای یک دیگر خود انجام بدهیم.

روزنامه تایمز می افزاید، پلان آغاز خروج نیروهای امریکایی در دوازده ماه آینده معنی اش این نیست که ما افغانستان را رها می کنیم. مربیون نظامی و کمک های اقتصادی برای مدت های طولانی برای افغانستان ادامه خواهد داشت.

روزنامه در اخیر این بخشی مقاله به نقل از بان کی مون سر منشی ملل متحد می نویسد، ما از مردم افغانستان التماس می نمایم، برای رسیدن به صلح از طریق مذاکره گرد هم جمع شوند. این پیام من برای مردم افغانستان است بخاطر منافع ملی متحد شوید، مدتهای طولانی است که شما مصیبت ها را متحمل شده اید.

شپیگل:

روزنامه دیگر شپیگل چاپ آلمان زیر عنوان "تاریخ تعین خروج نیروها " مقاله یی نوشته و در یک بخش این مقاله می نویسد، به اساس اعلامیه یا سند تصویب شده کنفرانس بین المللی کابل، مسوولیت تامین امنیت ۳۴ ولایت افغانستان به نیروهای امنیتی این کشور سپرده می شود. ملیشه های محلی و پولیس مسوولیت ثبات و امنیت را به عهده می گیرند.

اما در پلان یا سند تصویب شده گفته نه شده، نیروهای بین المللی که در حال حاضر تعداد شان به ۱۵۰۰۰۰ می رسد، چه وقت از افغانستان خارج می شوند. انتظار می رود بارک اوباما رییس جمهور ایالات متحده امریکا، قسماً نسبت به دلایل سیاسی داخلی خروج نیروها را در یک سال آینده آغاز نماید و این بالفعل رهنما برای خروج نیروهای ناتو خواهد بود.

روزنامه شپیگل در اخیر این بخشی مقاله می نویسد، مسوده نهایی اعلامیه کنفرانس بین المللی کابل در باره خروج نیروهای ناتو در سال ۲۰۱۴ میلادی مبهم و گنگ است. اما در فقره هفدهم اعلامیه نهایی آمده است که، جامعه بین المللی به تهیه حمایت های لازم جهت افزایش و توسعه امنیت، تهیه کمک های مالی و تجهیز اردوی ملی افغان ادامه خواهد داد.

ولې مو اسلام ومانه ؟

ژباړه: عبدالله کامه وال

پخوانی نوم: هیوتمین
اسلامي نوم : عبدالهادي
پخوانی مذهب: عیسویت
د هېواد نوم: جرمني

اسلام د حق دین دی
یواځې همدا په نړۍ کې امن او سکون راوستی شي

د یهودو یو ځانګړ اخبار چې د جرمني د پلازمېنې د بُن نه خپرېږي په خپله یوه تازه ګڼه کې لیکي: اسلام د مشکلاتو د حل یواځینی لار ده.

نوموړي په جرمني کې زیات لوستونکی لري او تر ټولو زیات خپریدونکي اخبار دی. پدې اخبار کې دهغو جرمني مسلمانانو مرکې خپرې کړې چې تر دې دمخه سخت دریځه عیسویان وو خو د اسلامي تعلیماتو نه په اغېزمن کیدو یې اسلام منلی.

دوی لکه څنګه چې په خپل پخواني دین کلک ولاړ وو تر دې زیات اوس پر اسلام ټینګ دي. اخبار دغه خبره چې په غربي نړۍ کې د اسلام د دومره چټکې خپریدا علت څه دی راپورته کړی او لیکي: دا وخت په جرمني کې ۶۰ زره داسې مسلمانان ژوند کوي چې پدوی کې زیاتره هغه خلک دي چې د سیاست، طب، انجنرۍ او مذهبي ډلو سرلاري دي.

اسلام منوونکی خلک دوه ډوله دي یوه ډله هغه دي چې اسلامي هېوادو ته یې سفرونه کړي او دوهمه ډله هغه دي چې په خپلو هېوادو کې د اسلامي لاربښوونو اغیزمن شوي دي.

دا خبره څرګنده شوه چې یواځې اسلام دی چې د انسانانو لپاره د خبر او خلاصون لار ده. او د ټولنې د بدبختیو او دردونو علاج دي. په نړۍ کې امن، سکون او پراخي یواځې اسلام راوستی شي.

تېر کال د حج پر وخت یو مشهور مسلمان شوي شخص عبدالهادي د عالم اسلامي د ورځپاڼې سره په یو مرکه کې د اسلام منلو واقعه داسې بیانه کړه: زه د اوړی د موسم پر وخت په خپل باغ کې ناست وم چې لمر وړانګې زما په زړه داسې لګیدلې چې ګوندې ددې شاهدي ور کوي چې اسلام دحق دین دی.

او داسې څه مې زړه ته راغله چې اسلام آخرنی دین دی چې پرورد ګار د خپلو بند ګانو لپاره غوره کړی دا دهغه چا دین دی چې د ټولو انسانانو، عیسی او موسی په څېر د ټولو پیغمبرانو حقیقي پالونکې او رازق دی. د عبدالهادي په څېر یو بل ژورنالست ایډبرټ رایف وایي: الله جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي چې د ټولو بنده ګانو لپاره د اسلام لار خلاصه ده او کولای شي چې اسلام ته پناه راوړی. دې وایي په هر هغه چا چې د الله جل جلاله فضل وشي نو په اسلام یې مشرف کوي.

دا ژورنالست وایي اوسنې عیسویت د فطرت سره په جنګ دي او زیاتره کړنې یې د اسلام او انسانیت سره په ټکر کې دي په اسلام کې په مذهبي شخصیتونو واده کول منع نه دي بلکې اسلام ورته د واده کولو حکم کوي خو په عیسویت کې د مذهبي خلکو لپاره واده کول ګناه ده. یوه لویه وجه چې مذهبي پیشوایان اسلام مني همدا ده، خو اسلام د انسانانو د زړه او روح پاکوالی تر څنګ د لوړ اخلاقي کردار د پیدا کیدو سبق هم ور کوي. یوه بله اروپایي ښځه په اروپایي تهذیب نیوکه کوي او وایي چې مسلمانی ښځې د نورو دینونو له ښځو نه په زیاتو شیانو ممتازی دي.

د مسلمانو ښځو یوه ځانګړنه داده چې د عمر په تیریدو هم د خپل نسوانیت خیال کوي او هغه نه ضایع کوي او اروپایي ښځې چې عمر یې تر دیرشو کلو واوړی نو بیا دمخ پوستکی په کریمو او کیمیاوي پوډرو ساتي چې پایله یې ددوی دمخ فطري ښکلا له منځه وړي. بل امتیاز یې دادي چې مسلمانان د خپلو ښځو زیات خیال ساتي هغوی د ټولنې بدو خلکو ته نه پرېږدي او دهغوی د جنس احترام ساتي، زیاتره اروپایي ښځې له همدې کبله اسلام مني چې اسلام د ښځو د حقوقو پالنی خاص خیال ساتي. عبدالهادي د مرکې په وروستی برخه کې دا شکایت کوي چې اسلام په اروپا کې د اروپایانو له لوري په بد نوم او شکل وړاندې کیږي، او د یو لوی او قوي دښمن په ستر ګه ورته کتل کیږي.

خو اړتیا داده چې اسلام په خپل اصلي او ریښتوني بڼه وړاندې شي.

د زیات خفګان او درد خبره داده چې هغه څوک (رسنۍ) چې ځانونه د ټولنې ریښتونی انځور ګر ګڼي هغوی هم د اسلام پر وړاندې خپل اصلي رسالت نه پوره کوي او د اسلام پر ضد لیکنی کوي چې نه د ژورنالیزم د اصولو سره برابر دي او نه د اخلاقي ارزښتونو سره ددوی هڅه داوې چې د خلکو په ذهن کې دا خبره واچوي چې اسلام د فساد او تخریب دین دی پداسې حال کې چې اسلام د امن ورورۍ یووالې، سلامتیا، لوړو اخلاقو او کړنو درس ور کوي.

سره له دې چې اسلام تر ټولو غوره دین او ښه کړنلار لري بیا هم اروپایان ددې دین د بدنامۍ هڅې ولې کوي؟ !

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکي شمیره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ډیزاین: خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

دبیر کل ناتو: اظهارات مبنی بر حضور القاعده در پاکستان بی اساس است

روزنامه هرالد تریبون:

دبیر کل ناتو در کنفرانس خبري مشترکي با وزیر امور خارجه پاکستان، اظهارات مقامات آمریکا مبني بر حضور القاعـده در پاکستان را اظهاراتي بي‌پایه و بی اساس دانست.

روزنامه هرالد تریبون در گزارشي با اشاره به اولین سفر رسمي دبیر کل سازمان پیمان آتلانتیک شمالي (ناتو) به پاکستان نوشت که "آندره فوگ راسموسن "در یک کنفرانس خبري مشترک با شاه محمود قریشي وزیر امور خارجه پاکستان در اسلام‌آباد، اظهاراتي که اخیراً درباره حضور شبه‌نظامیان القاعده در پاکستان مطرح شد را تکذیب کرد و گفت که این اظهارات کاملا بي پایه و اساس است.

اخیرا برخي از مقامات آمریکا به ویژه هیلاري کلینتون وزیر امور خارجه این کشور اعلام کردند که به عقیده آنها نیروهاي القاعده در پاکستان حضور دارند و اسلام‌آباد باید در مبارزه با آنها جدي‌تر عمل کند.

این اظهارات مقامات آمریکا، مقامات ارشد پاکستان از جمله آصف علي زرداري رئیس جمهوري این کشور را به شدت ناراحت کرد و آنها این گونه اظهارات مقامات آمریکایي را شدیدا رد کردند.

دبیرکل سازمان پیمان آتلانتیک شمالي در ادامه کنفرانس خبري مشترک با وزیر امور خارجه پاکستان که در اولین سفر رسمي وي به این کشور برگزار شد تصریح کرد که اظهارات مربوط به حضور القاعده در پاکستان اظهارات نادرستي است که هیچ پایه و اساسي ندارد.

با توافقنامه تازه ترانزیتی سهولت های زیاد برای تاجران افغان فراهم شد

کابل، رسانه ها:

پس از دو سال مذاکرات و گفتگو میان مقامهای افغان و پاکستانی توافقنامهء جدید ترانزیتی میان دو کشور به روز یکشنبه در اسلام آباد پایتخت پاکستان به امضا رسید.

تاجران افغان از موجودیت یک سلسه مشکلات به هنگام انتقال اموال شان از مسیر این کشور همواره شکایت داشتند.

داکتر انوارالحق احدی وزیر تجارت و صنایع افغانستان پس از برگشت از پاکستان و امضای این توافقنامه به روز دوشنبه در یک نشست خبری گفت که پس از این سهولت های زیادی در عرصه انتقال اموال تاجران افغان از طریق پاکستان فراهم خواهد گردید.

آقای احدی سهولت های را که در این عرصه به میان خواهد آمد، چنین بیان کرد:

((بر اساس موافقه جدید ما حق داریم از لاری های افغان استفاده کنیم و مال خود را از کراچی پاکستان به افغانستان بیاریم.))

در هنگام امضای توافقنامهء تازه ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان در اسلام آباد هیلاری کلنتن وزیر خارجهء ایالات متحدهء امریکا نیز حضور داشت.

تاجران افغان و کارشناسان مسایل اقتصادی نیز از امضای این توافقنامه استقبال کردند و آن را گام مهم در زمینهء رشد تجارت میان افغانستان و کشورهای منطقه خوانده اند. از سوی دیگر وزیر تجارت و صنایع افغانستان می گوید که افغانستان در این توافقنامه ترانزیتی امتیازی را به پاکستان قایل شده است.

او گفت:

((آنها در قسمت صادرات با ما همکاری می کنند و اجازه می دهند که در کمترین وقت ما بتوانیم مال تجار خود را به هندوستان برسانیم، ولی اجازه نمی دهند که اموال تجاری که از هندوستان می خریم آنرا از راه واگه وارد کنیم.))

توافقنامهء قبلی ترانزیتی میان افغانستان و پاکستان در سال ۱۹۶۵ میلادی به امضا رسیده بود که به گفتهء تاجران افغان این توافقنامه جوابگوی نیاز های فعلی آنها نمی باشد.

ظرف دو سال گذشته مقام های افغان و پاکستانی برای دست یافتن به این توافقنامه شش بار در کابل و اسلام آباد نشست های داشتند که بلاخره در دور هفتم این نشست ها توافق نهایی حاصل گردید.

د امریکا او بریتانیا مشرانو د افغانستان مساله وڅېړله

آزادی رادیو:

د امریکا د متحد ایالاتو ولسمشر بارک اوباما په سپینه ماڼی کې د سې شنبې په ورځ د بریتانیا د صدراعظم ډېوېډ کامرون کوربه شو او د افغانستان په اړه سره وغږېدل. وروسته تر دې چې ډېوېډ کامرون د بریتانیا د صدراعظم په توګه تاکل شوی دی دا امریکا ته د ده لومړی رسمي سفر دی.

دواړو مشرانو پر دې ټینګار وکړ، چې دا پر خای پرېکړه ده، چې د لویدیځ محارب پوځیان له افغانستانه وایستل شي. البته سره له دې چې شک کېږي چې افغان ځواکونه به دا وړتیا پیدا کړي، چې د خپل هیواد امنیت وساتي او یاغیان به وځپي.

دا خبرې وروسته تر دې وشوې، چې په کابل کې د نړیوال کنفرانس په ترڅ کې د دې پلان ملاتړ وشو، چې تر دوه زره څوارلسم میلادي کال پورې د افغانستان ډېرې امنیتي چارې افغانانو ته وسپارل شي.

د دې پلان په اړه پرون د کابل په نړیوال کنفرانس کې ولسمشر حامد کرزي وویل، چې افغان ځواکونه به څلور کاله وروسته دې ته تیار وي، چې په ټول افغانستان کې امنیتي چارې په خپله سمبال کړي:

"موږ د افغانستان د ملي پوځ د پرمختګونو ستاینه کوو. زه د دې پرېکړې یادونه کوم، چې د افغانستان ځواکونه به تر دوه زره څوارلسم کال پورې پوځي چارې په خپله غاړه واخلي او د قانون د تطبیق د عملیاتو مسوولیت به یې هم خپل وي. "

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د افغانستان د موضوع په اړه د بریتانیا له صدراعظم سره تر لیدو وروسته خبریالانو ته وویل، موږ سمه ستراتیژي لرو، د طالبانو د ماتې هڅې رواني دي او د افغانانو د ظرفیتونو د لوړیدو کوشش کېږي نو افغانان کولای شي، چې په راتلونکې کې خپل مسوولیتونه په خپله غاړه واخلي.

د بریتانیا صدراعظم ډیویډ کامرون وویل:

"د افغانستان په اړه تر دې ډېر شفافیت او وضاحت نه شته، چې بریتانیایان او امریکایان اوږه په اوږه ولاړ دي او د خپلو ملي ګټو لپاره په دې ماموریت کې سره یو خای شوي یوو.

زموږ بریتانیایي پوځیان د امریکا تر قوماندې لاندې په هلمند کې فعالیت کوي او په کندهار کې بیا امریکایي پوځیان لرو، چې بریتانیایه یې قوماندان دی. "

د د بریتانیا او امریکا مشرانو پر ایران د بندیزونو مساله هم وڅېړله او له تهرانه یې وغوښتل، چې د یوارنیمو له غني کیدو لاس واخلي. د امریکا او بریتانیا مشرانو د اسرایلیانو او فلسطینیانو تر منځ هم د مستقیمو خبرو د پیلیدو هیله وکړه.

کرزی: افغان ها مسؤولیت ...

گفت تلاش های حکومت افغانستان غرض بهبود حکومتداری و مبارزه با فساداداری امریکا را ترغیب نموده، ولی کار زیادی هنوز باقی مانده است که باید انجام یابد. او گفت ایالات متحده کمک به افغانستان را فراتر از ماه جولای ۲۰۱۱ ادامه خواهد داد که تاریخ آغاز خروج عساکر امریکایی از آن کشور میباشد.

حکومت افغانستان طرحی را انکشاف داده که هدف آن ادغام دوبارهٔ جنگجویان طالب به زندگی عادی میباشد. این طرح شامل حال کسانی است که سلاح خود را به زمین گذاشته، القاعده را محکوم نموده و همچنان از قانون اساسی افغانستان متابعت نمایند. خانم کلنتن گفت این برنامه چوکات درستی را ایجاد نموده است، ولی پیشرفت آن منوط به این است که آیا شورشیان مایل هستند به این شرایط موافقت کنند یا نه.

بان کی مون، منشی عمومی ملل متحد که با آقای کرزی میزبانی این کنفرانس را به عهده دارد، خواهان اتحاد بین مردم افغانستان گردیدو او همچنان از حکومت افغانستان خواست تا حقوق بشر را تأمین نماید و آنانی را مسئول قرار دهند که تخطی نموده اند. عبدالله عبدالله، رقیب عمدهٔ آقای کرزی در انتخابات بحث برانگیز سال گذشته، به صدای امریکا گفت که مردم افغانستان در مورد هر اقدامی میخواهند شفافیت وجود داشته باشد. او گفت آنها خواهان کنفرانس ها و اعلامیه های مشترک نه، بلکه صلح دائمی استند.

د کابل کنفرانس پای ته ...

کلونو کې د هیواد بشپړ امنیتي مسولیت په غاړه واخلي.

((افغانستان خپل اهداف مشخص کړل ، مونږ غواړو چې امنیتي ځواکونه مو ددې توان او ظرفیت ولري چې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې ټول امنیتي مسولیت پر غاړه واخلي ، او مونږ هیلمند یو چې نړیواله ټولنه به له افغانستان سره مرسته وکړي چې خپل دغه هدف ته ورسیږي او مونږ ددغه هدف لپاره په ریښتوني توګه کار کوو.))

حامد کرزي دا هم وویل چې افغان دولت به هڅه وکړي څو د غوره حکومت داری ، د فساد سره د مبارزې او اصلاحاتو په برخو کې هغه کارونه چې لا هم نه دي ترسره شوي په راتلونکي نږدې او یا لرې کې په ترتیب سره ترسره کړي.

د ملګروملتونو سرمنشي بانکي مون وویل چې د کابل د کانفرانس جوړیدل ښیي چې تر دې وروسته به افغانان په خپله خپل لومړیتوبونه ټاکي او نړیواله ټولنه به یې ملاتړ کوي څکه ده وویل چې د کابل د کانفرانس مشرې په خپله افغانانو کوله او په افغانستان کې جوړ شوي وه.

بانکي مون زیاته کړه:

((افغان حکومت په ملي پروګرامونو کې ۲۳ لومړیتوبونه وړاندې کړل ، چې هغه په کلیدي برخو لکه د سولې ، امنیت ، حکومت داری ، او پراختیا په برخو کې وه. ولسمشر کرزي او حکومت یې خپلې ژمنې یوځل بیا تازه کړې چې د خپل هیواد خلکو ته به ریښتونی او معنی لرونکي کارونه کوي ، او مونږ د افغانستان له راتلونکي سره اوږدمهاله ژمني لرو ، او له ټولو مرستندویانو څخه مې هم وغوښتل چې په خپلو ژمنو وفا وکړي.))

بانکي موون وړاندې وویل چې اوس هم په څینو افغاني اډارو کې فساد موجود دی او باید د فساد هره دوسیه په جلا جلا توګه وڅېړل شي او دغه راز له نړیوالي ټولنې څخه یې هم وغوښتل چې تر دې وروسته افغانستان ته خپلې مرستې په شفافه او اغیزناکه توګه ورکړي.

د کابل په نړیوال کانفرانس کې د ۶۰ هیوادونو او ۱۲ نړیوالو ادارو استازو ګډون کړی و چې له ۴۰ څخه د زیاتو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران هم په کې شامل وه.

جو بایډن : د افغانستان د ...

د امریکا د جمهوري ریاست مرستیال په خپلو څرګندونو کې ویلي : دا به له وخت نه مخکې قضاوت وي چې وویل شي په افغانستان د متحده ایالاتو د جګړې اوسنی ستراتیژي کار نه ورکوي .

نوموړي ویلي تر راتلونکې اګسټ میاشت پورې به کله چې د اضافي ځواکونو ځای پر ځای کیدل بشپړ شي دا به روښانه شي چې د افغانستان د جګړې ستراتیژي څه ډول پر مخ ځي.

دا په داسې حال کې چې له تیرو شپږو میاشتو راهیسې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له زیاتوالي سره ددغو سرتیرو پر وړاندې د وسله والو حملې او مقاومت هم زیات شوي دي.

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د مړګ ژوبلې زیاتوالي په متحده ایالاتو کې د افغانستان د جګړې په اړه د خلکو شکونه زیات کړي دي.

د اې بي سي او واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د نظر پوښتنو له مخې له تیر ډیسمبر میاشت راهیسې په امریکا د هغو کسانو شمیره چې د افغانستان جګړه ضروري بولي له ۵۲ نه ۴۳ فیصدو ته راښکته شوې ده.

د امریکا د پخواني ولسمشر جورج بوش یوه سلا کار ریچرډ هس چې له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان د راتلونکې لپاره هم اهنګ کونکی چارواکی ټاکل شوی و ددغه هیواد په اړه د ولسمشر اوباما پر اوسنی جنګي ستراتیژی انتقاد کړی او وایي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو زیاتوالي کومه ګټه نه لري.

د رویټرز خبري اژانس په وینا یو شمیر لیبراله ډیموکراتان بیا له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو د یوې روښانه او دقیقي نیټې غوښتونکي دي.

په عین حال کې جمهوري غوښتونکي بیا د ولسمشر اوباما لخوا له افغانستان نه په ۲۰۱۱ کال د سرتیرو د ویستو لپاره د پیل پر اعلان شوې نیټې انتقادونه کوي .

جمهوري غوښتونکي وایي دا اعلان خطرناکه نښې نښانې لري چې ګواکې امریکا د افغانستان د جګړې د ګټلو لپاره متعهده نه ده.

کوچنر: افغانستان دې له ...

وغوښتل چې په افغانستان کې د سولې لپاره هلې ځلې وکړي.

د سولې لپاره د ولسمشر کرزي له هلوځلو او د طالبانو مشرانو ته د سولې د خبرو له بیا بیا بلنې سره سره د طالبانو له لوري مثبت غبرګون نه دی ښوول شوی.

طالبانو او د افغانستان د دولت نورو وسله والو مخالفانو بیا بیا ویلي چې نړیوال ځواکونه دې له اقفغانستانه د وتلو مهالویش اعلان کړي او دوی تر هغوهیځ راز خبرو ته تیار نه دي چې لوېدیځو ځواکونو له افغانستان څخه د وتلو نېټه نه وي اعلان کړې.

د کابل په نړیوال کنفرانس کې پرېکړه وشوه چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې به د افغانستان ملي ځواکونه د ټولو امنیتي چارو مسوولیت په خپله غاړه اخلي. که څه هم په دې پرېکړه لیک کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په باب دقیقاً څه نه دي ویل شوي خوداسې ښکاري چې نړیوال ځواکونه د طالبانو له لوري د جګړې د بس کولو په صورت کې تیار دي چې له افغانستانه ووځي.

د جاپان د بهرنیو چارو وزیر ...

د زمینو برابرول او د پرمختیایي پروژو جوړول.

افغان چارواکو بیا بیا شکایت کړی چې له دې هیواد سره د کېدونکو مرستو یوازې په سلو کې شل دوی ته سپارل کېږي او اتیا فیصده نورې مرستې د بهرنیو موسسو له لوري په لنډ مهالو پروژو لګول کېږي.

په تېرو نهو کلونو کې له افغانستان سره د ځینو ادعاوو پراساس د نژدې شپېته ملیارد او د ځینو نورو ادعاوو پراساس د ۴۰ او ۵۰ ملیارد ډالرو ترمنځ مرسته شوې خو په دې پیسو په افغانستان کې کومه داسې پروژه نه ده جوړه شوې چې افغانانو ته د کار زمینه جوړه کړي او یا د افغانستان د حکومت لپاره په اینده کې سرچینه وزېږوي.

عواید اداره مواد نفتی ...

را زیر پوشش دارد می افزاید، این افزایش در عواید که حدود سه ملیون بالاتر از پلان داده شده دولت را نشان می دهد عمدتاً از جمع آوری قروض گذشته و مالیه از تانک های تیل خصوصی به دست آمده است.

آقای شاهین گفت:

((ما در مجموع ۱۴۷ تانک تیل در همین ولایات ذکر شده داریم که ۱۵ تانک آن دولتی و بقیه شخصی می باشند. ما از فروش هر لیتر تیل ۲۰ پول مالیه می گیریم، حدود ۸۰ هزار دالر پول را که از سال های گذشته بالای مردم باقی مانده بود جمع آوری کردیم.))

باید گفت که اداره مواد نفتی ولایت بغلان افزون بر ۱۵ تانک تیل فعال دولتی که در ولایات بغلان، بامیان و دایکندی دارد، از تانک های خصوصی نیز محصول جمع آوری می کند.

به گفته عبدالکریم شاهین این ذخیره گاه ها که سال های قبل در شهر پلخمری ساخته شده بودند و هر کدام گنجایش سه ملیون تا یکصدهزار لیتر تیل را دارند از اهمیت زیاد در ادوار مختلف بر خوردار بوده اند و اکنون نیز به عنوان یکی از ذخایر مهم مواد نفتی دولت در شمال کشور به حساب میآیند.

واشنګټن پوست : دبوش او ...

د واشنګټن پوست دراپور پایله او کېدای شي دامریکا جغرافیه ورسره بدله شي کاږي : هغه امریکا ، چې ډېره پیچلې ده او عام خلک پرې خبر نه دي .

۹ کاله وروسته او دهغه لګښتونو او هڅو له کبله ، چې دنظام دڅغورنې لپاره ترسره شوې دي اوس هیڅوک دپړسوپ کچه نشي معلومولې او دا هم پوښتنه ده ،چې دا تګلار اغیزمنه ده او کنه .

د راپور له مخې نږدې ۱۲۷۱ حکومتي ټولنې او ۱۹۳۱ خاص شرکتونه له ترهګرۍ سره په جګړه بوخت دي پردې سربېره ملي امنیت ، استخبارات او نږدې دامریکا په کچه ۱۰.۰۰۰ ځایونه لري ، چې دترهګرۍ پر ضد جګړه کوي ددې ترڅنګ ۸۵۴ زره تنه داسې پټ کارتونه لري ، چې کولای شي دمتحده ایالاتو محرمو او پټو ځایونو ته ننوځي .

راپور وړاندې ځي او کاږي : دسپټمبر له پېښو راوروسته په واشنګټن او نورو ځیرمه سیمو کې د استخباراتو اړوند ۳۳ ودانۍ جوړې کړې دي په بله مانا د پنټاګون دریمه برخه مساحت او د کیپټول هال ۲۲ ودانیو مساحت اویا ۱۷ ملیونه مربعه فوټ مساحت یې رانیولې دی .

راپور په پای کې کاږي : دا ډول استخباراتي پړسوپ دکال ۵۰ راپورونه دترهګرۍ په اړه وړاندې کوي .